د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۴

نېټه: ۱۴۴۴/۱/۱۳ هـق

عاجل ☐ عادی ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته

وبعد: د ستري محکمي عالي شورا مجلس مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هق ته، د دارالانشاء عمومي رياست پيشنهاد وړاندي کړی وو چي متن د پيشنهاد داسي دی:

((د افغانستان اسلامي امارت د محاكمو عالي اداري لخوا مكتوب نمبر(۴۰۵) مورخ ۱۴۴۰/۱۰/۱۳هق په لاندي توګه ټولو محكمو ته استول شوی وو:

د اداري اصولنامي د څوارلسمي مادې وضاحت ځيني محكمو غوښتی وو نو مناسب مو وبلل چي دغه وضاحت ټولو محكمو ته واستوو چي تفصيل د وضاحت يې په لاندي ډول دی:

(کومه صلحه چي ابتدائيه محکمې تائيد کړه تر تائيد وروسته که يو جانب قناعت نه درلودی دغه د يو جانب نه قناعت دوه صورتونه لري.

اول: که دغه غير قانع جانب وويل چي دغه صلحه شرعي نه ده په دغه صورت کي دغه د ابتدائيي تائيد سوې صلحه مرافعه او تميز لري.

دوهم: که دغه غير قانع جانب دغه خبره نه کوله چي دغه صلحه شرعي نه ده بلکه يواځي په دې وجه يې قناعت نه درلودی چي فيصله د ده په ګټه نه وه په دغه صورت کي بيا دغه د ابتدائيي تائيد سوې صلحه مرافعه او تميز نه لري.)

دا چي پورته تحرير شوی متن د افغانستان اسلامي امارت ټولو محکمو ته استول شوی وو بناءً د دوهم ځل استولو په موخه ستاسو درانه او محترم مقام ته پيشنهاد شو هغه څه چي ستاسو هدايت وي واجب التعميل دي.))

د پورته مكتوب په اړه عالي شورا د تصويب نمبر (۴۱) مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هق په اساس داسي هدايت وکړ:

((دارالانشاء رياست دي مذكور مكتوب په متحدالمآل ډول ټولو محكمو ته واستوي.))

بناءً د ستري محکمي عالي شورا د پورته ذکر شوي تصويب هدايت، د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تميزونو ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمي

د دارالانشاء رئيس

۱۳/۱/۱۴۴۴ هـق

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹

دافغانستان اسلامي امارت

دمحاکمو عالي اداره

مکتوب نمبر ۴۰۵ ۱۴۴۰-۱۰-۱۳هق

دټولو محکمو منسوبینو ته السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته وبعد،

داداري اصولنامې د ۱۳ مادې وضاحت ځیني محکمو غوښتی وو نو مناسب مو وبلل چې دغه وضاحت ټولو محکمو ته واستوو چې تفصیل د وضاحت یې په لاندې دول دی:

کومه صلحه چې ابتدائیه محکمې تائید کړه تر تائید وروسته که یو جانب قناعت نه درلودی دغه دیو جانب نه قناعت دوه صورتونه لري،

اول: که دغه غیر قانع جانب وویل چې دغه صلحه شرعي نه ده په دغه صورت کې دغه دابتدائیې تائید سوې صلحه مرافعه او تمیز لري

دوهم: که دغه غیر قانع جانب دغه خبره نه کول چې دغه صلحه شرعي نه ده بلکه یواځې په دې وجه یې قناعت نه درلودی چې فیصله دده په ګټه نه وه په دغه صورت کې بیا دغه دابتدائیې تائید سوې صلحه مرافعه او تمیز نه لري

دمحاکمو عالي اداره

Scanned with CamScanner